مائوتسه دون
ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۴ می ۲۰۲۱


## د تضاد په اړه

**(د ۱۹۳۷ اگست)**

**دریمه برخه**

**۱ـ دوه ډوله نړۍ لید**

ځمکه په ټوله او هره برخه کې له جغرافيايي او اقليمي پلوه د بدلون په حال کې ده، خو که دا بدلون له ټولنيزو بدلونونو سره پرتله شي، نو دومره اهميت نلري. جغرافيايي او اقليمي بدلون ځان په لسګونو زره کلونو کې ښکاره کوي، حال دا چې ټولنيز بدلونونه ځان په څو زرو، څو سوه يا لسګونو کلونو، او ان د انقلابونو پر مهال په څو کلونو يا مياشتو کې ځان ښکاره کوي. د ماترياليستي ديالکتيک له نظره په طبيعت کې بدلونونه په عمده ډول د هغه تضادونو د تکامل له امله رامينځته کيږي چې دننه په طبيعت کې موجود دي. همدا ډول د ټولنيزو بدلونونو تکامل د هغه تضادونو د تکامل له امله رامينځته کيږي چې دننه په ټولنه کې موجود دي؛ د مولده ځواکونو او د توليدي اړيکو تر مينځ تضاد، د طبقاتو تر مينځ تضاد، د زاړه او نوي تر مينځ تضاد؛ د همدې تضادونو تکامل دی چې ټولنه پرمخ بيايي او د زړې ټولني پر ځای د نوی ټولني د جوړيدو لامل کيږي.

پوښتنه دا ده چې آيا ماترياليستي ديالکتيک بهرني لاملونه حذفوي؟ نه، په هيڅ ډول. ماترياليستي ديالکتيک بهرني لاملونه د بدلون شرط او دننني لاملونه د بدلون اساس ګڼي؛ بهرني لاملونه يوازې د دننني لاملونو له لاري اغيزه کولی شي. د چرګې هګی د تودخ د يوې مناسبې درجې لاندې په چرګوړي بدليږي، خو هيڅ ډول تودخ نشي کولای ډبره په چرګوړي بدله کړي، ځکه چې د دواړه د بدلون اساس سره فرق لري. د مختلفو هيوادونو د خلکو تر مينځ هميشنی اړيکه موجوده ده. د پانګوالی په پېر او په ځانګړي توګه د امپرياليزم او پرولتاريارئی انقلاب په وخت کې په سياسي، اقتصادي او کلتوري برخو کې د مختلفو هيوادونو اړيکي او دوه اړخيزه اغيزې خورا زياتي وي.

د اکتوبر سوسياليستي انقلاب نه يوازې د روسيې په تاريخ، بلکې د نړۍ په تاريخ کې هم د يو نوي عصر لار پرانيستله. دې عصر په نړۍ کې د نورو هيوادونو په دننني بدلونونو خپله اغيزه وکاروله او په تيره بيا د چين پر دننني بدلونونو ژوره اغيزه وکړه. دا بدلونونه، د چين په ګډون په نورو هيوادونو کې هم د همدې هيوادونو د پرمختيا د دننني قوانينو معلول ول. په جګړه کې، يو پوځ بريا ته رسيږي او بل ماته خوري. د پوځ بريا او ماته دواړه دننني لاملونو سره تړاو لري. بريمن پوځ يا خو د خپلې ځواکمنتيا او يا هم د خپلې وړ قوماندې له امله بريا ته رسيږي او همدا ډول مغلوب پوځ د

خپلې کمزورتیا او یا د ناسمي قوماندې له امله ماته خوري. همدا دننني عوامل دي چې د بهرني عواملو د اغیزې لامل کیږي. په ۱۹۲۷ کال کې په چین کې د سترې بورژوازۍ په لاس د پرولتاریا ماته د هغه اپورتونیزم له امله و چې په خپله د پرولتاریا (د چین کمونیست گوند) تر مینځ راڅرگند شوی و. کله چې مو حساب له دې اپورتونیزم سره پاک کړ، د چین انقلاب خپل پرمختک له سره پیل کړ. خو لږ وروسته، د چین انقلاب بیا د دښمن له لاسه سخته ماته وزغمله، چې دا ځل دننه زموږ په گوند کې د اوانتوریزم د څرگندېدو له امله وه. کله چې مو له اوانتوریزم سره حساب تصفیه کړ زموږ غورځنگ یوځل بیا پرمختګ وکړ. نو له دې ښکاري چې د انقلاب د بریالیتوب لپاره یو سیاسي گوند باید د خپل سیاسي خط پر سموالي او پر سازماني پیاوړتیا ټینگار وکړي.

دیالکتیکي نړۍ لید په لرغونی زماني کې په دواړو، چین او اروپا کې رامینځته شو. لرغونی دیالکتیک چې د خپلسرۍ او ساده توب ځانگړني درلودی؛ د هغه مهال په واکمن ټولنیز او تاریخي شرایطو کې د دې توان نه درلود چې د یو تیوریکي سیستم بڼه غوره کړي. همدا و چې د نړۍ د بشپړې توضیح توان یې نه درلود او ځای یې متافیزیک ونیو. د آلمان نومیالی فیلسوف هگل چې د اتلسمي پیړۍ په وروستیو او د نولسمي پیړۍ په لومړیو کې ژوند کاوه، د دیالکتیک په ودې کې ارزښتناکه ونډه واخیسته، خو د هغه دیالکتیک ایده الیستی دیالکتیک و. مارکس او انگلس، د پرولتاریایي غورځنگ سترو مخکښانو، کله چې د بشرد پیژاند د تاریخ مثبتي لاسته راوړني سره ترکیب او په ځانگړي توگه د هگلیانیو د دیالکتیک معقول او منطقي عنصرونه په انتقادي ډول اقتباس او د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم ستره تیوري یې خلق کړه نو د بشر د پیژاند په تاریخ کې بی ساری ستر انقلاب رامینځته شو. لنین او ستالین وروسته دې تیوری ته نوره هم پرمختیا ورکړه. څنگه چې دې تیوري چین ته پراختیا ومونده، د چینیانو په نړۍ لید کې یې ډېر ستر بدلونونه رامینځته کړل.

دا دیالکتیکي نړۍ لید تر ټولو لومړی موږ ته زده کوي چې څنگه په بیلابیلو شیانو کې د تضادونو حرکت وگورو او تحلیل کړو او د همدې شننو او تحلیل پر اساس د تضادونو د حل لپاره میتودونه په گوته کړو. د همدې لپاره موږ ته په اشیاؤ کې د تضاد د قانون واقعي او مشخصه پوهیدنه زیات اهمیت لري.

ادامه لري.